# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤١٨ ګڼه / یکشنبه ۲۱ رمضان‌الکریم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۱۲ حمل ۱٤٠٣ هـ.ش / ۳۱ مارچ ۲٠۲٤ میلادي


اوقات افطار و سحر به افق کابل

افطار: ٦:١٦

سحر: ٤:١٤

## کار انتقال آب از دریای پنجشیر به کابل به‌زودی آغاز می‌شود

مقام‌هـای وزارت آب و انـرژی کشـور می‌گویند، کار انتقال دومتر مکعـب آب از دریای پنجشـیر به شـهر کابل، به‌زودی آغاز می‌شود. دفتر رسانه‌های مقام ولایت پنجشیر با نشـر خبرنامـه‌ای ازسـفر یک هیات به این منظور و با سرپرسـتی رییـس سـروی و دیزایـن وزارت آب و انـرژی بهپنجشـیر خبر داده اسـت.بربنیاد معلومات خبرنامه، این هیات شـامل مسوولان شرکت بین‌المللیS.K.M ترکیه و شماری از مقام‌هایوزارت آب و انرژی است که به هدف سروی نهایی این پروژه به پنجشیر رفته است.محمد عارف مومنـد، رییـس سـروی و دیزاین وزارت آب و انرژیگفتـه کـه پروژه انتقال آب دریای پنجشـیر به کابل شـامل انتقال دو متـر مکعب آب می‌شودکه مسیر ۱۲٠ کیلومتر را در بر می‌گیرد.آقای مومند... ص۳

### وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث

## آغاز کمک رسانی برای خانواده‌های متضرر از حوادث طبیعی در ولایات مختلف کشور



شـریعت: از چنـد روز بدینسـو که در اثـر باران های شـدید در سراسـری کشـور رخ داده است، متأسـفانه در بعضـی ولایـات تعـدادی از افـراد جـان باخته و بـرای زمین های زراعتی، خانه ها و مواشـی مردم ضررهای فراوانی وارد شده اسـت، از همین سبب وزارت دولتی در امور رسـیدگی به حـوادث با همـکاری بعضی موسسات خیریه توزیع کمک پول نقد، آرد و گنـدم و کمپل را برای تمام متضررین آغاز کرده آند.

در زمینـه مولاجانـان فایـق سـخنگوی وزارت دولت در امور رسـیدگی بـه حـوادث گفت که بـا هماهنگی موسسـه «میشـن ایست» برای ٤٠۱ خانواده متضرر از حـوادث طبیعـی و نیازمندان در ولسـوالی ارغنج خواه ولایت بدخشـان بیـش از ١٤ میلیـون افغانـی پول نقد توزیـع گردیده، همچنان برای ۷۶ خانواده...ص۳

## خوست کې پينځه نوي چک ډېمونه جوړ او پر څلورو نورو يې کار روان دی

د اوبـو او انـرژۍ وزارت پـه يوه خبر کې وايي چې په خوسـت کې د پنځو چـک ډېمونـو د جوړېدو چارې بشـپړې شـوې او د څلورو نورو دوام لري. يـاد وزارت په دې تړاو پـه يوه خبرپاڼه کې ويلي، چې په دې لړ کې د خوسـت د ځاځي ميدان ولسوالۍ په الګډې شيخانو، د صبريو ولسـوالۍ د ځپرې درې کندې، د نادرشـاه کوټ ولسوالۍ د وام مقبل او د دوه منده ولسـوالۍ د انارباغ او په تڼيو ولسـوالۍ کې د درګې ترخيلو چـک ډېمونو چارې بشپړې شوې دي. ۲مخ



## کجکي بند د بيارغونې لس سلنه چارې پرمخ تللي



د اوبـو او انـرژۍ وزارت وايي، د هلمنـد ولايـت د کجکي بند د دويم فاز پـروژې د دويمې برخې چـارې چې د خدماتـي پرچاوي جـوړول، د دروازو نصبـول او د اضطراري پرچاوي جوړول په کې شامل دي، ۱٠ سلنه بشپړې شوې دي. يـاد وزارت ويلي، د دې بند د لومـړي او دويم فـاز د چارو په بشـپړېدو سـره به د ياد بند د اوبو زېرمـه کولـو وړتيا له يـو ميليارد مترمکعـب څخـه ۲.٠۲ ميليارد متـر مکعب تـه او د اوبـو لګولو وړتيا لـه ۱٠٠زره هکتارو څخه ۲ لکه ۷۶ زره هکتارو ته لوړه شـي. همداراز د ياد بند د برېښنا د توليد کچه به هم لـه ۵۱ ميګاواټو څخه ۱۵۱ ميګاواټو ته... ۳مخ

## د هېواد شمال کې د ښاري ټکسي د رنګ بدلولو لړۍ پيل شوې



له کابل څخه وروسـته د هېواد په شمال کې د ښاري ټکسي د رنګ د بدلولو لړۍ پيل شوې ده.

د افغانسـتان د ترافيکـو عمومي رييس حسيب‌الله مختار تېره ورځ په بلخ کې د يو لړ ځانګړو مراسمو په ترڅ کې وويـل چې دغه بهير د شمال زون په بلخ، سرپل، فارياب او جوزجان ولايتونو کې پيل شوی دی.

ښاغلي مختار زياته کړه ... ۳مخ

## سفر هفت گردشگر چینایی به بلخ

عبدالواحـد احـدی آمـر توریزم ریاسـت اطلاعات و فرهنگ بلخ به آژانـس خبری باختـر گفت که هفت تـن از گردشـگران از چین به بلخ سـفر نمـوده و از جاذبه‌ها و مکان‌هـای تاریخـی این ولایت دیدار کردند.

سوسن شـهروند کشـور چین که بـه بلخ سـفرکرده، مـی گوید که افغانسـتان باموجودیـت آبده‌های تاریخـی، محـلات طبیعـی و غذاهـا، دارای قابلیـت های بلند گردشگری اسـت. خانم سوسن به دیگر گردشـگران خارجی پیام داد که افغانسـتان دارای امنیت کامل بـوده و بـه اطمینان خاطـر به آن سـفر کنند. این در حالی است که درده روز گذشته هفده گردشگر از کشور های چین، سلواکیا و امارت متحده عربی به بلخ سفر کرده اند.

به اسـاس آمارها، درجریان سـال گذشـته، هشت صدو سـی وسه گردشـگر خارجی به بلخ سفرکرده اند.



## کورونو کې پټ کرل شوي کوکنار اړول شوي



د کندهار ځايي مسوولين وايي چې په دې ولايت کې يې تازه ۶٠ جريبه کرنيزه ځمکه د کوکنارو له کښـتـه پاکه کړې ده.

ويل کيږي چې دا کوکنار په پکښته ميوند، غورک، تخته پـل او دامان ولسواليو کې اړول شوي دي.

د امنيـه قومندانۍ ويانډ ملا اسـد الله جمشيد وايي چې دا کوکنار په کورونو کې دننه کرل شوي وو چې له منځه وړل شوي.

د ښاغلي جمشيد په قول چې ددغو کوکنارو په تور يـې درې تنه نيولي هـم دي. دا په داسـې حال کې ده چـې کورنيو چـارو وزارت ويلي، په تېرو شپږو مياشـتو کې په هېواد کې د نشه يي توکو ۳۷۷ کارخونې د امنيتي ځواکونـو له خوا له منځه وړل شـوي دي. د کورنيـو چارو وزارت معلومـات ښـيي چـې په تېرو شـپږو مياشتو کې دغه وزارت په ټـول هېواد کـې ۳۶۴۵ هکتاره ځمکه د نشه يي توکو له کښته پاکه کړې ده.

سرمقاله

## زموږ تعليمي نظام ژور بدلون ته اړتيا لري

په نني عصر کې موږ ټول بايد پردې حقيقت ډېر ښه وپوهېږو چې له پوهې او معرفت نه پرته ژوند کول خورا سـتونزمن او له بدمرغيو ډک تماميږي. علم او پوهه نه يوازې دا چې د خپل ځان او خپل خالق او مالک پېژندلو لپاره اړين دي بلکې اوس مهال خو پرته له تخنيکي فنونو د خپل معيشت چاره کېدی شي او نه خپله دفاع او له دښمنانو د خپل دين او پت ساتل ممکن دي- تر دې چې که د امت پر اوسنۍ بده ورځ ښه فکر وشي نو خامخا دې نتيجې ته رسېږي چې د انحطاط او ذلت د مهمو اسبابو له جملې يې يو مهم سبب په عصري او طبيعي علومو کې غفلت او سستي ده. له بده مرغه موږ هم له پېړيو راهيسې په جنګ جګړو کې ښکېل او د بهرنيانو له سختو يرغلونو سره مخ شوي يو، تعليمي نظام مو حتماً له سره بيا کتنې ته شديده اړتيا لري- ځکه زموږ اوسنی تعليمي نظام هغه که ديني وي او که عصري د طالبانو لپاره ستومانونکی خو د زمانې غوښتنو ته ځواب ورکونکی نه دی.د مثال په ډول زموږ د ديني مدارسو د طالبانو کلونه کلونـه د عربي ژبې په زدکړه کـې تېرېږي خو نتيجه معلومه ده چې بيا هم له فراغت وروسته په سـلو کې (۹۹)يې نه په عربي ژبه دوه خبرې کولی شي او نه کومه جمله ليکلی. حال دا چې که څوک يو کال د انګليسـي ژبې کورس ولولي هم پوره محاوره کولی شي او هم ليکنه په دې توګه زموږ د ديني مدارسو او عصري زده کړو درسي نصاب د ناکامۍ او نيمګړتيا لپاره ايکې يو همدا دليل کافي او شـافي دی او لازمه ده چې زموږ استادان پردې موضوع ښه په غورسره فکـر وکړي. همدارنګه د عصري علومو نصاب او نظام مو هم ډېر پخوانی او د وخت له اړتياو وسره هيڅ اړخ نه لګوي. مثلاً دا چې له اول ټولګي تر دوولسمه يو خو د مضامينو شمېر پکې ډېر زيات دی بل دا چې وخت ډېر نيسي. په داسې حـال کې چې د اوس زمانې خلک ټول په منډه دي. په دې معنا چې دا وخت نور خلک په دوولسو کلو کې زښته ډېر پرمختګ کوي- نو فرضاً که زموږ نظام هم داسې وټاکل شي چې تر لسم پورې له ديني او عصري علومو نه يوازې ډېر اساسي او ضروري يې په نصاب کې شامل کړی شي له يوې خوا به د مدرسې او مکتب اختلاف او توپير له منځه ولاړ شـي او لـه بلې خوا به د طالبانو ټول وخت په ضروري او ګټورو درسـونو کې مصرف شوی وي- بيا که تر دې ور پورته نور وخت يې په تخصصاتو کې ولګېږي خامخا به هر يو په خپل مسلک کې ښـه مهارت او پياوړتيا تر لاسـه کړې وي. لنډه دا چې که موږ د علومو او فنونو تر لاسه کولو کې د پرمختګ غوښتونکي يو، نو دا چاره د تعليمي نظام له بيا کتنې او څېړنې پرته هيڅ امکان نه لري.

## هژده عراده واسطه نظامی ترمیم و دوباره فعال شد

هژده عراده واسطه دیگر نظامی از سـوی تیـم تخنیکـی قول اردوی البدر ترمیم شد.

دفتر مطبوعاتـی وزارت دفاع ملی با نشر این خبر گفته است: وسایط ترمیم شـده شامل ۱۵ عـراده تانک هاموی و ۳ عراده انترشنشـل نوع کاماز می باشد که ازسـوی تیم تخنیکی قول اردوی البـدر ترمیـم وغرض استفاده به جزوتام های آن قول اردو سپرده شد.

بعد از پیـروزی دو باره امارت اسـلامی، هزاران عراده واسطه مختلف نظامی کـه از فعالیت بازمانده بودند از سوی تیم های تخنیکی وزارت دفاع ملی ترمیم و قابل استفاده شده است.

## د سمنګانو د احصائيې او معلوماتو رياست، ۱۸ ميليونه عوايد زيات شوي




د سمنګانو د احصائيې او معلوماتو رياست مسـوولين وايي، چې د تېر کال په پرتله د دې رياست عوايد يو نيم برابره زيات شوي دي.

د سمنګانو د احصائيې او معلوماتو رييس حبيـب الرحمـن وقاص د باخترآژانس خبريال ته ويلي، چې د ياد رياست عوايد په ۱۴٠۱ کال کې ۲۳ ميليونـه ۲٠۴ زره ۹۷۸ افغانۍ وو چې پـه ۱۴٠۲ کال کـې راټول شوي عوايد ۴۱ ميليونه ... ۳مخ


د اختلافي څېرکو سپړلو پر ځای، د ټولنې فکري انسجام مهم دی! ۲

د قدر شپې فضيلت ۲

داعش؛ د مسلمانانو بدنامولو لپاره د غربي استعمار پروژه ۲

افغان اعلانات ۲

# د اختلافي ټکو سپړلو پر ځای، د ټولنې فکري انسجام مهم دی!

**خالقيار احمدزی**

رښتيا هم په کوچنۍ خوله او کم علم، د لويو خلکو په هکله ليکل کوم، هغه څه چې بايد ما نه وای کړي، خو د يوه مجبوريت او عاطفې له مخې يې شريکول غواړم.

که څه هم دامهال بې شمېره موضوعات شتون لري چې سړی بايد پوره مطلب پرې وليکي او يا هم حد اقل يو کوچنی ټويټ يې په تړاو وکړي؛ خو تر ټولو د پام وړ موضوع چې اوس يې هيواد کې تر ډېره پام ځان ته اړولی، هغه د علماء کرامو تر منځ د تصوف د ځينو باريکيو د رسنيز کېدو پر سر راپورته شوي هغه ناندرۍ دي؛ چې له امله يې د دواړو لوريو ملاتړو د يوه او بل پر وړاندې مستحکم دريځونه نيولي دي.

آن د سوشل مېډيا په ميدان کې يې د حکومت «ا.ا.ا» سياسي مخالفينو ته هم پر دين او معتقداتو د ملنډو وهلو سوژې په لاس ورکړې دي.

ځينو د تصوف مخالفينو له موقع څخه په استفادې سره، خپل اخلاص تر دې کچې وکړ چې ټولنې ته يې خپل مقابل لوری (اهل تصوف) د دين له علياء مسائلو په جاهلانه تعريف تورن او ډول ډول ټاپې يې پرې سريښ کړې.

کاش د دواړو لوريو بحثونه د رسنيز سکرين پر ځای، د پردې تر شا په يوه مسجد يا کوم ښوونيز تحقيقاتي مرکز کې مخامخ تر سره شوي وای؛ کاش د دواړو لوريو موخه عوام او له ديني مطالعې څخه د بې خبره ځوانانو اصلاح نه وای.

په ټوله کې؛ کاش د دواړو لوريو هدف د يوه او بل د پرېوتو پر ځای، حق ته رسېدل او بيا همغه حق ټولنې ته رسول وای.

خو دا ټول فوت شوي دي.

که د تصوف اړخ ته راشو، هلته داسې خطرناکې خبرې هم شتون لري چې ابوهريرة «رض» يې په هکله وايي: که له رسول الله ص څخه اخيستل شوی دوهم ډک لوښی خلکو ته ورسوم، نو زما حلقوم به خلک پرې کړي؛ هلته د وحدة الوجود او وحدة الشهود سربېره دومره نازک او له عقل او فکر لوړ مسائل شته، چې له دې فن څخه ناخبره يې په اورېدلو حيرانېږي او حتی د انکار مطلق په دايره کې يې تقرير او تحرير خيالي کيسې بولي.

رښتيا هم د موسیٰ «ع» په ملګرتيا کې خضر «ع» هغه نا اشنا کارونه کوي چې موسیٰ «ع» يې له امله ځای پر ځای پوښتي او دا کارونه ورته هيڅ د منلو نه ښکاري؛ خو کله چې خضر«ع» ته د موسیٰ«ع» ننګونکې پوښتنې تر دې زياتې د زغملو نه وي، په پای کې يې موسیٰ «ع» ته د پردې تر شا رازونه او حقايق بيانوي او جلالي طبيعته موسی«ع» د تل لپاره له خپل انډيوال استاد نه بيلتون ته اړ کيږي.

يا هم لکه د منصور حلاج د اناالحق خطرناک داستان او يا هم....؛

که څوک د تصوف فن پسې واړوي دا او تر دې ډېر حيرانوونکي نازک مسائل موندلای شو، چې عقلونه ورته حيرانيږي، خو له واقعيت ناخبرو ته يې درک کول هم مشکل برېښي.

بلخوا که په تصوف کې د ځينو باريکيو په هکله جرحه کوونکي د تاريخ په اوږدو کې راواخلو، دوی ظاهراََ تصوف مني، خو پر ځينو ټکو يې ملحوظات هم لري؛ دوی د اهل ظاهر هغه علماء وي چې يوائې د فقهي متونو د ظواهرو پلي کيدل د خلکو درملنه بولي، نور هغه څه چې د شرعي نصوصو څرګند متون په کې شتون ونه لري، يو ډول بدعت يې يادوي...

طبعي ده چې د رازونو خلکو ته د اسرارو مالومات ښه کيږي، خو ناخبرو ته د غوامضو ښکاره کول سترې ستونزې ځېږوي.

زه دلته د واړو لوريو څو خبرې لرم...!

د معاصر وخت د تصوف درنو شيوخو او سرلارو!

سمه ده چې رسنۍ او په ځانګړې توګه سوشل ميډيا ستاسو د غږ رسولو تر ټولو لنډه لار ده، خو د لطف له مخې مو د نوي ناخبره قشر او هغو زرګونو پوهياليو ځوانانو ته مو هم که پام وکړ، چې د تصوف له الف با څخه ناخبره دي؛ که لومړی د تصوف د داعيې، تګلارې او اصولو په هکله په ساده لهجه عام خلک وپوهوئ او بيا د نورو اسرارو تبيين ته مټ ورکړئ، ډيره به ښه وي.

خپل رسنيز مسؤلين مو وپوهوئ چې ستاسو د ژباړې، تقرير او تدريس ويډيوګانې دې له فلټر پرته نه خپروي او له تاسو هم احترامانه هيله ده چې که د تدريس، تقرير او نورو مواردو پر مهال د ناستو کسانو د ادراک او فهم په مقايسه څرګندونې وکړئ دا به مو پر ټولو لوريينه وي.

هو! تاسو ته به د عامه پوهاوي کمپاين سترې کوونکی وي، خو دومره به نه وي سخت، لکه چې ستاسو مخالفين يې د رد لپاره کوي

پاتې علماء کرامو!

تاسو که واقعا علماء ياست او له شريعت څخه ژوره مطالعه لرئ، نو د بشپړ عالم اطلاق پر هغه چا نه کيږي، چې له مروجو علومو د يوه څخه يې ناخبره وي، لطفا دا د مطالعې بحر ته لږ سم ور شيوه شئ، که لږ د تصوف په غوامضو ځان ښه پوهه کړئ، دا به مو هم له ځان هم له ټولنې سره د احسنې لارې په موندلو کې ښه مرسته کړې وي.

که د اوسنيو متصوفينو چارې درته ناسمې برېښېدلې، د لطف لمخې يې د رسنيز مخالفت پرځای؛ جومات، کور او مدرسې ته ورځئ د اړوند جزئيې په هکله يې پوښتئ او هر اړخيز بحث ورسره کوئ.....؛ که يې خبره مستدله نه وه، يا يې له شريعت سره څرګند ټکر درلوده، نو په اړوند مسائلو کې ورته د قرآني نصوصو، نبوي احاديثو او د علماوو اجماع په هکله قناعت بخشه مالومات ورکوئ؛ که ستاسو حقانيت او د دوی بطلان څرګند وو، نو د بې ځايه مخالفت تور خو به نه دربانديې لګول کيږي.

له پوره تحقيقه وروسته د حق او ناحق په هکله محتاطانه پرېکړه کوئ او د خپلو جلالي خطبو پر مهال، ځوان قشر په فتنو کې مه اچوئ.

دوهم داچې ستاسو په منځ کې د وهابيانو او نورو فتنه ګرو ډلو.... هغه فرښتې صفته شياطين هم ننوتلي، چې څوک يې احاديث نه مني، څوک يې مذاهب اربعه ته سپک خطاب کوي او څوک هم په نورو بابولالو سر دي؛ خو ستاسو په سيورې کې هغوی هم خپل مخالفين ټکوي.

هو! که تاسو له خپلو متصوفينو ورونو سره تنويري ناستې پيل کړئ ، د همدې مرموزو څېرو اصالت به هم ښه راڅرګند شي.

علماوو !

که مو رسنيزو جنجالونو او يو د بل پښو وهلو ته کار ووايه، لېرې نه ده چې ستاسو اختلاف به بيا د رحمت پر ځای د غضب ښه خپلوي او عندالله به په دې امت کې د هر ډول نفاق او شقاق مسؤلين هم تاسو شمېرل کيږئ.

ستاسو اختلافات به لکه د ګاونډې هيواد د لمبه شوی تنور په څير، په ولسونو کې ناوړه سناريوګانې تر شا پرېږدي او کلي په کلي به همدا بدبختي تداوم پيدا کا.

وروستۍ خبره!

الحمدلله چې تر لسيزو وروسته يو اسلامي نظام قائم او د سپېڅلي شريعت د نفاذ موقع برابره شوې، اوس که د اسلامي نظام له مزاياوو خلک خبر کړل شي، د ځوانانو فکري رَغونه ترسره او د حزب التحرير او نورو عقيدوي مخالفينو له فکري چنګال يې وژغورئ ؛ لويه لاسته راوړنه به وي.

د ځوانانو د اذهانو تنوير د فکري او عقيدوي اساساتو په تړاو بيخي د وجوب تر حده پر هر عالم لازم دی.

که د هديرې پر سر تقرير کوئ، يا د جامع جوماتونو خطيبان ياست او يا هم په کلي او ولس کې د امامت سپېڅلې دنده مخته وړئ؛ لطفا د ولسونو د اصلاح په خاطر پر فکري او عقيدوي موضوعاتو تمرکز له خپلو مسؤليتونو وبولئ او په اړوند برخه کې خامخا د نويو ځوانانو لپاره د اړينو مضامينو تدريس ته اوږه ورکړئ.

داچې موږ ولې لسيزې په جګړو کې پاتې شوو؟ ولې او د څه لپاره دومره قربانۍ او په اوسني پېر کې مو مسؤليتونه بايد څه وي، ا.ا.ا له موږ څه غواړي او د استحکام لپاره يې بايد څه وشي؟ ؛ هغه حاد موضوعات دي چې د ټولنې هر قشر ورته اړتيا لري او پر تاسو ده چې بايد کار ورته وواياست....!

# د قدر شپې فضيلت

**حيات الله حليم**

د روژې مياشتې د وروستۍ لسيزې له ۲۱ ـ ۲۳ ـ ۲۵ ـ ۲۷ ـ ۲۹ طاق پنځه شپو څخه يوه يې د احتمالاتو پربنا د قدر شپه ښودل شوې ، که څه هم دروژې ټوله مياشت مبارکه ، نيکه مرغه اوله فضيلتونو ډکه ده اوقرانکريم هم په همدې مياشت کې را نازل شوی ، خو د قدر شپه د دې مياشتې ځانګړې او له ټولو نېکمرغه او بختوره ښه شپه ده، په دې شرط چې د رياضت اوعبادت په ترڅ کې ديدارد چا په نصيب شي . د قدر شپه ځکه د روژې غوره ده چې دالله ج په نزد يې حکم د ۸۳ کلونو قبول شوي عبادت څخه هم بهتره ښودل شوی، په همدې اساس الله پاک په خپل کلام کې فرمايي ( دا شپه د زرو مياشتو قبول شوي عبادت څخه غوره ده) په دې مبارکه شپه جبرا ئيل امين د آسمان له ملايکو سره مځکې ته را ښکته کېږي او په روحاني فضا کې د الله پاک د نيکو بنده ګانوحالت ګوري نو څومره به بختور وي هغه مسلمان چې په دې حال کې د خضوع او خشوع په حالت کې خپل رب ته په رکوع او سجده وي او څومره به نيک بخته وي هغه کس چې له آسمانه را ښکته شوی الهي مخلوق يې د عبادت تواضع او فروتني په دغه ليدل شوي حالت الله بې نياز ته ګواهي ورکړې، په ۲۰۱۲ کال د ناسا يو شمېر څېړونکو د دې شپې په څېړنه پسې فضا ته ولاړل په زرګونو کيلومتره مزل يې وکړ تر څو يوې داسې فضا ته ورسېدل چې يوه لويه او پراخه سپينه رڼا يې د مځکې په لور په حرکت کې وليدله ، د فضايي ماموريت له دغه کسانو څخه څلور پنځه تنو يې د دغه حقيقت په ليدلو سره فوري ايمان را ووړ او مسلمان شول.

د حضرت ابوهريرة له خولې روايت دی چې جناب رسول الله مبارک و فرمايل : هغه څوک چې د قدرشپه په عبادت او وېښه تيره کړي ، د ده ټول ګناهونه به الله ج وبښي ، ټول احاديث په دې ګواه دي چې د قدرشپې په رڼولوسره به الله پاک دعابد مسلمان وروستي او وړومبي ګناهونه ټول وبښي ، مفسرينو د دې شپې يو شمېرعلايم په دې ډول په فقهي کتابونوکې ذکرکړي دي : دا شپه به ډېره آرامه او خاموشه شپه وي، نه ډېره تياره اونه به هم زياته رڼا وي ، په سهار به يې سپوږمۍ سپينه او د نورو وختونو په څېر به شعاع نه لري، جالبه دا چې په دې شپه به د محل سپيان دغپېدو توان هم نلري، نودا څومره بختوره شپه ده، په دې شپه اعتباردنيا ته نه،بلکې آخرت ته دی مانا دا چې يومسلمان بايد د دنيا طلب ونه کړي، بلکې د مستجاب الدعوات سوال اوغوښتنه وکړي ځکه دا هغه بشپړه غوښتنه ده چې هېڅ وروستی ارمان اونېمګړتيا نلري.

کله چې د قدرښه شپه د قرآني آيتونو او نبوي احاديثو له مخې بختوره وګڼل شوه اواعتبار هم د مستجب الدعوات غوښتنې ته په کې ورکړل شو، نو لازمه ده چې په دې شپه له الله پاک څخه د هغو جرايمو او ګناهونوعفوه وغواړو چې موږ يې په تېر کې مرتکب شوي يو، خوپرې پوهېږو نه ، لاس را لپه کړو او د الله له غني درباره د دې بختورې مياشتې په برکت غوښتنه وکړو چې زموږ د کبيره او صغيره ګناهونو، جرايمو او نورو تېروتنو په «ديوان» د عفوې او ښښنې قلم را کش کړي او سوال وکړو، چې نورمو له خپل ارحمه الراحمين درباره په نا اميدۍ مه رټه او شړه ځکه نورخوموستا له عادل درباړپرته، د دنيايي اسباب او وسايلو په ذريعه له هرې خوا اميد قطع دی .

تمه ده که په پوره اخلاص د روژې مبارکې مياشتې په وروستۍ لسيزه کې طاق شپې په رياضت او عبادت تيرې کړو او الله پاک ته زارۍ وکړو ځکه الله پاک مهربان دی چې دين او دنيا مو دواړه سيخ شي،زموږ وروستۍ تمه اوهيله بيا هم د الله پاک دربارته داده،چې د روژې د همدې مبارکې مياشتې او په تېره بيا د ليلة القدر د ښې شپې په لوړ قدسيت او درنښت مو ګناهونه عفوه کړي.

# داعش؛ د مسلمانانو بدنامولو لپاره د غربي استعمار پروژه

**ابوالياس جهادوال / څلورمه او وروستۍ برخه؛**

څرنګه چې په لومړۍ، دويمه او درېيمه برخه کې داعش ډلې د راټوکيدو او په عراق او افغانستان کې يې پر فعاليتونو او له دغې فتنه‌ګرې ډلې څخه د غرب ، د کابل پخوانۍ اداري او سيمه‌ييزو مليشو د ملاتړ په اړه معلومات وړاندې شول، نو په دغه برخه کې به له دغې فتنه‌ګرې ډلې څخه د پاکستاني چارواکو ملاتړ ته کتنه کوو :

**له داعش څخه د پاکستان د ملاتړ بېلګې:**

څرنګه چې په پيل کې ورڅخه فتنه‌ګره ډله د غرب، کابل اداري او پاکستاني چارواکو د مثلث شکله توطيې په ترڅ کې رامنځته شوه چې په دې برخه کې د پاکستان رول هم د پام وړ وو.

څرنګه چې د داعش ډلې پخواني غړي بنسټګر عبدالرحيم مسلم دوست چې وروسته د حقايقو په درک څخه بېرته له دغې ډلې څخه جلا شو، د پاکستان پوځ او ای ايس ای اداري مسوولانو (جنرال اشفاق، ډګروال عارف او ميجر عامر ) باندې له داعش سره د مالي ملاتړ تور ولګاوو.

حافظ سعيد په همغو لومړيو کې کله چې له داعش سره خپل بيعت اعلان کړ، د پاکستانيو جنرالانو په مشوره له خپلو جنګيالو سره د دې لپاره د تيرا له غرونو څخه کوز شو او د ننګرهار په سويلي ولسواليو کې يې مرکزونه جوړ کړل چې جګړه د پاکستان له خاورې څخه لېرې بوځي او تر پايه يې حتی يو بريد هم پر پاکستان خاوره باندې ونه‌کړ.

همدارنګه د ۱۴۰۲ کال د لينډۍ په ۲۵مه د بريتانيا ګارډين ورځپاڼې په يوه تحقيقي رپورټ کې وويل چې پاکستان په افغانستان کې د ناامنۍ رامنځته کولو لپاره د داعش د خراسان څانګې ملاتړ کوي.

د ورځپاڼې په باور، آی ايس آی او په راولپنډۍ کې د پوځ د مرکز په‌شمول د پاکستان استخبارات د داعش له لوړو تشکيلاتو سره موافقې ته رسيدلي دي. د دوی ترمنځ هوکړه دبوري (Dabori) په نوم يادېږي، چې د خيبرپښتونخوا په اورکزيو کې د يوې کوچنۍ سيمې نوم دی او د داعش ډېری مشران همغلته اوسېږي.

ورځپاڼه زياتوي، هم پاکستان او هم داعش په صداقت د دبوري موافقې ته ژمن دي. د دې هوکړې له کبله داعش له دې سره سره چې په پاکستان کې حضور لري خو هيڅکله يې هم په رسمي ډول په دغه هيواد کې خپله څانګه نه ده اعلان کړې او د پاکستان پر پوځ يې هيڅ بريد همنه دی کړي. څو محدود کوچني بريد چې شوي هغه هم ښايي د پوځي ادارو په فرمايش وي چې تلفات يې هم ډېری ملکيان وو.

ګارډين ليکلي، دې ټکي ته پاملرنه اړينه ده چې په پاکستان کې د داعش له حضور سره سره، هيڅچا تراوسه نه دي اورېدلي چې د پاکستان پوځ يا استخباراتو دې د داعش پر ضد عمليات کړي وي چې لامل يې د دبوري موافقه ده.

د پاکستان پوځ او امنيتي اداري د داعش پر خراسان څانګې هيڅ راز عمليات نه کوي، ځکه چې دې ډلې ته درناوی لري، په حقيقت کې دا ډله يې مېلمنه ده او عموماً يې غړي د پوځ په مېلمستونونو کې اوسېږي.

د ګارډين د ريپورټ ليکوال، د پاکستان د پوځ او استخباراتو له لوري د داعش نازول طبيعي بولي ځکه چې له دې ډلې څخه د اسلامي امارت پر ضد کار واخلي. له کله چې په افغانستان کې اسلامي امارت واک ته رسيدلي، داعش له سختو ستونزو سره مخ شوی دی، خوندي پټن‌ځايونه يې له منځه تللي او د دې له‌پاره چې د پټېدو ځای نه مومي، ډېری غړي يې پاکستان ته تښتېدلي او له هغه ځايه د پاکستان پوځي اداره ورڅخه د افغانستان پر اوسنۍ اداري د فشار راوړلو لپاره کار اخلي. ورځپاڼې د داعش خراسان څانګې د ځينو هغو جګړه مارو په اړه جزئيات هم وړاندې کړي چې د پاکستاني پوځ او استخباراتو په مېلمستونونو کې مېلمانه دي، جزييات او ليکلي يې دي چې د دغو کسانو ډېری د اورکزۍ ايجنسي اوسيدونکي دي. د داعش خراسان څانګه اصلاً هم په اورکزو کې رامنځته شوې او مشر يې هم د همدې سيمې وو.

د دغې ډلې هغه غړي چې د اورکزو له علي‌خېل قبيلې سره تړاو لري او د پاکستان د پوځ له ملاتړه برخمن دي په لاندې ډول دي: سراج، چې مستعار نوم يې محمدي دی، سهراب چې په ياسر مشهور دی، حسن، حنيف جان چې په عمر مشهور دی، نسيم، نذير، ملام، بادام عادل، رستم، رييس خان، عابد، ابراهيم، طاهر، شاه محمود او تاج محمد چې په ښکاري مشهور دی. ګارډين د اورکزو د ماموزي قبيلې د ۳۷ تنو او د اورکزو د ملاخېل، فيروزخېل قبيلو د ګڼ شمېر داعشي غړيو نومونه هم ياد کړي دي.

ورځپاڼې د آی ايس آی په مېلمنو کې زين العابدين، چې په مفتي درويش مشهور دی، د داعش مهم قوماندان بللی او وايي چې د پاکستان پوځ پر نوموړي ډېر حساب کوي.

ورځپاڼه وايي چې په وروستيو کې داعش د پاکستان په فرمايش د افغانستان په هرات کې يو شمېر نرم اهداف هم په نښه کړل.

ګارډين وايي چې داعش ته د دغو بريدونو تسهيلات او منابع آی ايس ای برابرې کړې وي او د دوی مشرانو ته يې ويلي وو چې دا ډول بريدونه به نه يوازې د دوی له جنګي ستراتيژۍ سره مرسته وکړي، بلکې داعش به هم په رسنيو کې مطرح کړي. د ورځپاڼې په باور پاکستان د دې لپاره د داعش پر مټ په افغانستان کې ناامني جوړوي چې په سرپرست حکومت فشار راوړي او د کابل چارواکو ته دا پيغام ورکړي چې د بالقوه وسلې په توګه داعش کارولی شي. په وروستيو کې د پاکستان پخواني موقت صدراعظم انوارالحق کاکړ له رسنيو سره په خبرو کې په ډاګه خبرداری ورکړی وو:«که اسلام اباد د داعش خراسان څانګې ته پناه ورکړي او يا يې ملاتړ وکړي، کابل به يې څنګه احساس کړي؟» خو اسلامي امارت د تېر کال په اګست کې د پاکستان د دغو تورونو په ځواب کې وويل، په تېر يوه کال کې په افغانستان کې د داعش لسګونه پاکستاني غړي وژل شوي يا نيول شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې د پاکستاني طالبانو تحريک پخواني وياند احسان الله احسان هم له يوې هندۍ رسنۍ « The Sunday Guardian» سره په تازه مرکه کې له داعش څخه د پاکستان له ملاتړه پرده پورته کړه چې په وينا اسلام آباد غواړي چې يادې ډلې ته په افغانستان کې د پښو ځای پيدا کړي. له دې سربېره د المرصاد خبري او معلوماتي سايټ د معلوماتو پر بنسټ د داعش ډلې د خراسان څانګې مشر ثناءالله غفاري چې په شهاب المهاجر شهرت لري، هم د پاکستان په بلوچستان ايالت کې د ياد هېواد په پوځ ملاتړ د افغانستان پر ضد تخريبي فعاليتونه ترسره کوي.

## خوست کې پينځه نوي چک ډيمونه جوړ...

د اوبو انرژۍ وزارت زياته کړې، چې دغه چک ډېمونه د دې وزارت د۱۲ ميليونه افغانيو په لګښت جوړ شوي دي.

دغه راز د څلور نور چک ډېمونو د جوړېدو چارې دوام لري. د يادونې وړ ده، چې دغه پروژې د اوبو او انرژۍ وزارت په مالي لګښت د اوبو د مديريت د سيلابونو د ويجاړيو د مخنيوي، د کرنيزو اوبو د چمتو کولو او د ځمکې لاندې اوبو د پياوړتيا په موخه پلي کيږي.

# مقام‌های پاکستانی به جای متهم کردن دیگران، خود را در برابر مردم شان مسئول بدانند

مقام‌ها در کشور همسایه به جای گفتن حرف‌های تکراری که پایه و بنیادی هم ندارند بهتر است به فکر انجام مسوولیت‌های شان در برابر مردم شان باشند.

مبصر آژانس باختر می‌نگارد؛ ذبیح‌الله مجاهد؛ سخنگوی امارت اسلامی در جواب به گفته‌های و یا بهتر بگویم به جواب اتهام بندی‌های تازه خواجه محمد آصف؛ وزیر دفاع پاکستان، از او خواسته است که متوجه مسئولیت‌های خود باشد.

وزیر دفاع پاکستان به دنبال حمله به موتر حامل انجنیران چینایی در خیبر پختونخواه گفته است «منبع تروریزم فعال درپاکستان در افغانستان است و مسئولان نظام در افغانستان با وجود آگاهی از پناهگاه‌های تروریست‌ها در این کشور، علیه آنان اقدام نمی‌کنند...»

باید گفت که گفته‌های اخیر این مقام پاکستانی، تکرار گفته‌های ناسنجیده شده است که با تاسف گاهگاهی از زبان مقام‌های این کشور برون می‌شود، گفته‌های که اساس و بنیادی ندارند.

به قول سخنگوی امارت اسلامی اظهارات اخیر وزیر دفاع پاکستان مبنی بر استفاده آزادانه تروریست‌ها از خاک افغانستان علیه پاکستان، یک اتهام بی اساس و فرار از مسئولیت است.

او هم‌چنان گفته است که مقام‌های پاکستان این‌گونه اظهارات را در راستای «توجیه ناکامی‌شان» ابراز می‌کنند.

برای رد این گفته‌های خواجه آصف دلایل زیادی وجود دارد، اول این‌که، افغانستان از تحریک طالبان پاکستان میزبانی نکرده است و رهبران این گروه خود بار ها گفته اند که در آن طرف خط دیورند اند و برای اهداف شان مبارزه می‌کنند، از طرف دیگر مسئولیت حادثه اخیر را نه تحریک طالبان پاکستان، بل یک گروه از مبارزین بلوچ به عهده گرفتند که این نشان می‌دهد گروه‌های زیادی در پاکستان، در برابر دولت این کشور به پا برخاسته اند، پس بهتر است که مقام‌های پاکستانی به جای اتهام بستن‌ها به فکر ناهنجار ها در کشورشان باشند و به جای متهم کردن دیگران اوضاع را مدیریت کنند و ناکامی شان را به دوش دیگران نیاندازند.

افغانستان مسئولیت تامین امنیت پاکستان را ندارد، مگر این تعهد را به همه همسایه‌ها دارد که عامل تهدید و بروز مشکلات برای دیگران نیست و در این تعهد خود هم‌چنان استوار است، به جز از پاکستان، همسایه‌های دیگر افغانستان آن چنان که مقام‌های همسایه جنوبی اتهام بسته می‌کنند، حرف نمی‌زنند، بل امارت اسلامی در افغانستان را عامل همکاری‌های منطقه‌یی می‌دانند.

از طرف دیگر قسمی که سخنگوی امارت اسلامی گفته است، تحریک طالبان پاکستان ۲۰ سال است در آن کشور فعال است و جنگ کرده، این یک مشکل داخلی آنان است که ربطی به افغانستان ندارد.

در اصل مشکل در مدیریت اوضاع در پاکستان است، مسئولان باید بیشتر مسئولیت پذیر شوند، بار ناکامی خود را با اتهام بستن به دیگران، توجیه نکنند، حرف‌های تکراری به درد خور نیست، مردم پاکستان هم می‌دانند که مشکلات کشورشان در کجا است، مقام‌ها در حکومت جدید پاکستان باید برای مردم شان پاسخ درست و قناعت بخش داشته باشند با یاوه گویی‌ها نمی‌توان به جای رسید.

امارت اسلامی به فکر کار هدفمند با حکومت جدید در پاکستان است تا روابط میان دو کشور ترمیم شود، نظام موجود در افغانستان به منافع مشروع دیگران احترام می‌گذارد و هم‌چنان بر حفاظت از منافع خود تاکید دارد در حالی‌که گفته‌های مانند اظهارات اخیر وزیر دفاع پاکستان که نه اساس دارند و نه بنیاد، می‌تواند دورنما روابط میان دو کشور را مکدر کند و کابل چنین چیزی را نمی‌خواهد.

## آغاز کمک رسانی برای خانواده‌های ...

متضرر و بی بضاعت، در ولسوالی ها و مرکز این ولایت، مواد غذایی و غیر غذایی شامل؛ آرد، گندم و کمپل توزیع شده است.

به همین ترتیب سازمان جهانی مهاجرت(IOM)، مبلغ ۲۹,۴۷۲,۰۰۰ افغانی پول نقد را برای ۱۲۲۸ خانواده آسیب دیده، جهت ترمیم سرپناه در در ولسوالی های وردوج، ارگو و مرکز فیض آباد برای هر خانواده مبلغ ۲۴,۰۰۰ افغانی پول نقد نیز توزیع کرده است و موسسه میشن ایست، برای ۳۳۵ خانواده فقیر و آسیب پذیر در ولسوالی درایم این ولایت، برای بار سوم پول نقد توزیع کرد. این خانوادها شامل دو کتگوری در ۶ قریه ولسوالی درایم، بودند که کتگوری اول خانواده های که سطح فقر و آسیب پذیری شان بیشتر بوده همچنان دارای سرپرست معلول، اطفال یتیم و بیوه زنان بودند که هرخانواده مبلغ ۹۴۳۲ افغانی پول نقد دریافت کردند و کتگوری دوم خانواده های بودند که سطح فقر و آسیب پذیری شان کمتر بوده و هر خانواده مبلغ ۵۳۲۸ افغانی پول نقد دریافت کردند.

همچنان موسسه هماهنگی کمک های بشری OCHR با حمایت مالی صندوق بشردوستانه افغانستان AHF، در هماهنگی با ریاست مبارزه با حوادث ولایت بادغیس، پس از سروی برای ۲۸۵ خانواده بی بضاعت در ولسوالی جوند این ولایت پول نقد مساعدت نمود. باید گفت که در این مساعدت برای هر خانواده مبلغ ۵۲۸۳ افغانی معادل ۷۵ دالر امریکایی پول نقد توزیع شد.

در ولایت غزنی نیز برای ۷۲ خانواده متضرر، آسیب پذیر، ورثه شهید و معلول کمک خوراکی دریافت نمودند، در این کمک برای هر خانواده یک بوری گندم ۵۰ کیلویی و یک بوری برنج ۵۰ کیلویی توزیع شد. **تیموری**

## واشنګټن غزه کې ...

ولسمشر جوبایډن مرستیالې کاملا هارېس الجزیرې سره په مرکه کې ویلي و چې تل ابیب به د خپلو غوښتنو منلو ته چمتو کوي او که یې سرغړاوی کاوه، نو واشنګټن به پر بدیل غوراوي فکر وکړي.

بل خوا، سنټکام وايي چې دوی د هوايي ځواک په مرسته یوازې تېره جمعه شاوخوا ۴۶۰۰۰ زره د خوړو کڅوړې فلسطینیانو ته له هوا ور خوشې کړي دي. په یو شمېر ویډیوګانو کې چې په خواله رسنیو کې لیدل کیږي، یو شمېر فلسطینیان د دغو کڅوړو د نیولو په تکل ژورو اوبو ته ورښکته کیږي او د یوې مړې ډوډۍ په بدل کې خپل ژوند بایلي. ویل کیږي چې ورمه ورځ څو تنه له هوا د مرسته شویو خوراکي کڅوړو په نیت اوبو لاهو کړي دي.

بل خوا، صهیونستانو په تازه ړندو بمباریو کې ۶۲ تنه نور فلسطینیان شهیدان کړي دي. له دغو نویو شهیدانو سره د (اکتوبر له اوومې) د شهیدو فلسطینیانو شمېر له ۳۲ زرو او ۵۰۰ تنو اوړي او د زخمیانو کچه یې ۸۵ زرو تنو ته رسېدلې ده. د نړیوالو رسنیو په قول امریکا په سیمه کې خپل حضور زیات کړی او د تېر په پرتله اسراییلو ته نږدې شوي، بل خوا یاد هیواد د عامه ذهنیت غولونې په موخه د رسنیو پر وړاندې تل ابیب ته دروغجن ګواښونه کوي. اوسمهال امریکا د اسراییلو تر ټولو ستر مالي ملاتړی دی چې د اکتوبر له اوومې راهیسې یې ورسره میلیاردونه ډالره مرسته کړې ده.

## بازداشت ۲۳ تن به اتهام...

اواخر هفته گذشته، سخنگوی وزارت امور داخله دست‌آوردهای شش ماه گذشته این وزارت را رسانه‌ای ساخت که حاکی از بازداشت هزاران مجرم بود.

## نورستان کې د مصنوعي...

ورکوي او زیاتوي، چې د کرنې او مالدارۍ ریاست یې هڅه پیل کړې، چې په یو شمېر سیمو کې د مرستندویه ادارو پر مټ مصنوعي ځنګلونه جوړ کړي.

## شماری از منسوبان قطعات خاص یک دوره...

دیگری از مسؤلان امارتی وعلما شرکت داشتند.

لوی درستیز قوای مسلح، در این مراسم خطاب به فارغان گفت: امنیت و آرامش که اکنون در کشور حاکم است از برکت شما است، بزرگان و مردم تان به احساس و فداکاری‌های تان افتخار می کنند.

جوانان فارغ شده با تعهد به حراست از ارزش های ملی ونظام اسلامی سند فراغت شان را بدست آوردند.

## پاکستان ته د وسلو د قاچاق مخنیوی...

څخه یې افغانستان ته راوړي، کشف او ونیول سوه. د یادونې وړ ده، چې اوس مهال د هیواد په ټولو ګمرکونو کې د ممنوعه او قاچاقي توکو څخه په جدي توګه څارنه کېږي او چاته اجازه نه ورکول کېږي، چې یاد توکي صادر او یا وارد کړي.

## کجکي بند د بیارغونې لس سلنه...

پورته شي چې د چارو په بشپړېدو سره به یې د هلمند او کندهار ولایتونو اوسېدونکي له برېښنا څخه برخمن شي.

د کجکي بند د دویم فاز پروژه د اوبو او انرژۍ وزارت له سترو پروژو څخه ګڼل کېږي.

## د هیواد شمال کې د ښاري ټکسي د رنګ...

چې د ښار د ټولو ټکسي رنګ به له ژیړ څخه فیروزيي او سپین ته او شاوخوا ټکسي به په فیروزيي بدل شي.

بل خوا د بلخ مرستیال والي نورالهدي ابودریس په دې وروستیو کې د افغانستان په شمال کې د ښاري او شاوخوا موټرو د رنګونو د بدلولو د پروسې په پیل کې ویلي وو چې د دغه بهیر په بشپړېدو سره به په هېواد کې د ناامنۍ او سړي تښتونې کچه راټیټه شي.

د یادونې ده، چې دغه پروسه کابینې له خوا تایید شوې ده.د ټکسي موټرونو د رنګ د بدلولو لړۍ له ژیړ څخه فیروزيي ته لومړی له مرکز څخه پیل او اوس په شمال زون کې پیل شوې ده.

## د سمنګانو د احصائیې...

۱۰۶ زره ۵۰۱ افغانۍ و چې دغه شمېر د تېرکال په پرتله ۱۷ میلیونه ۹۰۱ زره ۵۲۳ افغانۍ زیاتوالی ښیي.

نوموړي زیاته کړه، چې د دغې اداري د عوایدو د زیاتوالي لامل د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د اسانیتاو برابرول، د برېښنايي پېژندپاڼو چټک چاپ او د پېژندپاڼو د بیولوړوالی بللی دی.

## بزرگان قومی ولسوالی موسهی...

آموزشی و توسعه مکاتب و مدارس در آن ولسوالی با رهبری وزارت معارف شریک ساختند.

معین وزارت معارف از دیدگاه و نظر بزرگان ولسوالی موسهی در رابطه به بهبود معارف قدردانی کرده متعهد شد به پشنهادهای مطرح شده توجه خواهد شد.

# د مـــدينې پـر لـــور

**شپږمه برخه / لیکوال: سید ابوالحسن ندوي رحمه الله / ژباړن: محمدصادق طارق**

د اقبال یاد روحاني سفر هغه مهال ترسره کیږي چې عمر یې تر ۶۰ کلونو زیات او قواوې یې کمزورې شوي دي؛ په داسې سن کې چې عموماً خلک هوساتوب او یوازېتوب ته ترجیح ورکوي کوم لامل اقبال اړ کړ چې په دومره سپین ږیریتوب او ناروغیو کې د حجاز ستونزمن سفر ته چمتو شي؟ باید وویل شي چې اقبال د عشق امر ته غوږ کېښود او د شوق منادي ته یې لبیک ووایه. هغه وايي:

به این پیری ره یثرب گرفتم
نوا خوان از سرور عاشقانه
چو آن مرغی که در صحرا سر شام
گشاید پر به فکر آشیانه

لکه هغه چې مور ته په خطاب کې وايي تاسو ولې حیران شوې یاست چې ما د عمر په داسې پړاو کې چې د ژوندون لمر مې د ډوبېدو په درشل کې ؤ د مدینې لار –چې د مؤمن د روح د مارغه ځاله ده– په مخه کړل؟ آیا تر اوسه مو فکر نه دی کړي چې د شپې ځادر مخ پر غوړیدو وي مرغان مخ پر خپلو ځالو الوزي؟ نو زما د روح مرغه هم په همدې ډول خپلې حقیقي ځالې ته ستنیږي.

د مکې او مدینې تر منځ چې یې اوښ په ځغاسته شي ورته وايي: ورو قدم اخله چې سپور دې ناروغ او بوډا دی خو اوښ یې وړاندیز نه مني او داسې مستانه قدمونه اخلي لکه د حجاز ریګ چې یې تر پښو لاندې وریښم وي.

سحر با ناقه گفتم که نرم‌تر رو
که راکب خسته و بیمار و پیر است
قدم مستانه زد چندان که گویی
به پایش ریگ این صحرا حریر است

شاعر د همدې حجازي کاروان سره غبرګ د درود او سلام په سوغات خپل مزل مخ په وړاندې وهي؛ زړه یې غواړي چې د حجاز په ګرمو ریګونو سجده ولګوي چې اثر یې د تل لپاره په تندي پاتې شي او خپلو اندیوالانو ته هم د یاد کار د ترسره کولو وړاندیز کوي او وایي:

چه خوش صحرا که در وی کاروان‌ها
درودی خواند و محمل براند
به ریگ گرم او آور سجودی
جبین را سوز تا داغی بماند

ذوق او شوق یې ټول وجود برمته کوي او د دوو تنو شاعرانو عراقي او جامي بیتونه وایی. خلک په تعجب پوښتنې کوي چې دا عجمي انسان څوک دی او په کومې ژبې دومره مؤثر اشعار وايي چې موږ پرې هېڅ نه پوهیږو خو زړونه داسې له ایمان او محبت څخه ډکوي چې له انسان څخه خوراک او څښاک هېروي او انسان داسې خړوبوي چې په دې دښته کې هېڅ کله د تندې احساس نه کوي.

امیر کاروان آن اعجمی کیست
سرود او به آهنگ عرب نیست
زند کز نغمه کز سیرابی او
خنک‌دل در بیابانی توان زیست

اقبال د یاد سفر له ستړیاوو، بې خوبیو، لوږې او تندې څخه خوند نه اخلي بلکې اوږده لار باندې لنډه شي حال دا چې د ژر رسیدلو فکر یې هېڅ نه درلود نو ځکه له څاروان څخه غوښتنه کوي چې اوږده لار په مخه کړي تر څو د بیلتون په سوز کې–چې د عاشقانو سرمایه ده– لږ نور هم تم پاتې شي.

غم راهی نشاط آمیز تر کن
فغانش را جنون انگیزتر کن
بگیر ای ساربان راه درازی
مرا سوز جدایی تیزتر کن

**نـــوربیا** ...

## کار انتقال آب از دریای پنجشیر ...

افزوده که این پروژه آب مورد نیاز دو میلیونباشنده کابل را در بر می‌گیرد و از پروژه‌های بی‌نظیر در سطح منطقه است.در همین حال، داکتر فرساد، رییس شرکت بین‌المللی ترکی S.K.M گفته که این شرکت با تجربه ۸۰ درصد آب‌رسانیکشور ایران، آماده است پروژه انتقال آب از دریای پنجشیر به کابل را، آغاز کند. مقام‌های این شرکت در پایان سروی و بررسی‌های‌شان، اطمینانداده‌اند که به‌زودی کار عملی پروژه انتقال آب به کابل آغاز خواهد شد. گفتنی‌است که در حال حاضر به‌دلیل تراکم بیش از حد نفوس، کم‌بود آب و آلوده شدن آب‌های زیر زمینی شهر کابل، باشندگان این شهر به آب آشامیدنیصحی، ضرورت مبرم دارند.


# افغان اعلانات

**اطلاعیه مفقودی**

یک قطعه کارت حمل سلاح نوع کلاشینکوف دارای نمبر ۹۸۰۳ مربوط محترم عبدالهادی فرزند عبدالغنی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۵۸

***

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت تجارتی به اسم سید نقیب الله سادات فرزند سید اکرم مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.۱۵۲

***

**اطلاعیه مفقودی مهر دواخانه**

محترم محمد طاهر رسولی فرزند محمد ایوب ولدیت محمد ظاهر دارنده تذکره نمبر ( ۳۹۳۵۲- ۰۱۰۲- ۱۴۰۱) مسکونه اصلی ولایت جوزجان وکیل شرعی امتیاز دواخانه نوی صمیم واقع مرکز ولایت جوزجان عنوانی این اداره عارض و از مفقودی مهر و لوحه دواخانه خویش خبر داده است اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد آگاهی حاصل نموده و از تاریخ نشر اعلان مطابق قانون و مقرره مهر دواخانه مذکور از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۰

## اعـــلان داوطـــلبی

ریاست عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسهٔ داوطلبی پروژه های ذیل اشتراک و آفر های سربستهٔ خویش را مطابق شرایط شرطنامه از تاریخ نشر اعلان الی ضرب الاجل تسلیمی آفر ها ارایه نمایند:

| شماره | نام پروژه | نمبر تشخیصیه | مقدار تضمین آفر (گرنتی بانکی به افغانی) | ضرب الاجل تسلیمی آفر |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | پروژهٔ تدارک پرزه جات وسایط ضرورت ریاست تخنیک و ترانسپورت | OCS/1403/G-58 | ۵٤۰,۰۰۰ | ۱٤۰۳/۲/۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر |
| ۲ | پروژهٔ تدارک ۱۱ قلم حبوبات ضرورت ریاست خدمات | OCS/1403/G-57 | ۵۰۰,۰۰۰ | ۱٤۰۳/۲/۳ ساعت ۲:۰۰ بعد از ظهر |

کاپی شرطنامهٔ مربوط را در بدل مبلغ (۵۰۰) پنج صد افغانی از آدرس ذیل به دست آورده می توانند:
- ساختمان روابط عامه واقع دروازهٔ ورودی ادارهٔ امور.

به منظور حصول معلومات بیشتر به آدرس های ذیل به تماس شوند:
- شمارهٔ دفتر: ۰۲۰۲۱٤۲۱۰۲
- شماره وتسپ شخص مسئول: ۰۷٤۸۵۹۵۰٦۰

آدرس بازگشایی آفرها: ارگ، جوار تعمیر اداری، ساختمان شورای امنیت اسبق، منزل دوم، سالون جلسات.

# Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شریعت بربښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ – د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦/ ۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Sunday 31 March 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 418


# شاتو کې زهر؛ واشنګټن غزه کې خواره ویشي او اسراییلو ته بمونه ورکوي

د امریکا د متحده ایالاتو مرکزي قوماندانۍ یا سنټکام ویلي چې دوی د غزې اوسېدونکو ته تر ۴۰ زرو زیاتې د خوراکي توکو کڅوړې استولې دي. بل پلو، نړیوالو رسنیو د امریکا او اسراییلو هغه ترون ښکاره کړی چې په ترخ کې یې واشنګټن تل ابیب ته د میلیاردونو ډالرو وسلې، بمونه او جنګي الوتکې ورکړي دي.

د راپور له مخې، په دغو نویو وسلو کې یو زر او اته سوه تر دوه زرو پونډو درانه ام کې-۸۴ بمونه او ام کې-۸۲ پینځه سوه پونډه بمونه شامل دي.



ورته مهال رویټرز ټینګار کړی چې سپیني ماڼۍ او په واشنګټن کې د اسرائیلو سفارت د دې موافقې په اړه رسنیو ته له څه ویلو ډډه کړې او دغه تړون له نورو پټوي. داسې ویل کېږي چې واشنګټن، تل ابیب ته دا نوې وسلې او بمونه امریکا ته د اسراییلو د دفاع وزیر یواف ګیلانت تر سفر وروسته ورکړي دي.

واشنګټن، تل ابیب ته نوې وسلې داسې مهال ورکړې چې همدغه هیواد څو ورځې وړاندې له اسراییلو په کلکه وغوښتل چې پر غزې او رفح ښارګوټي بریدونه ودروي. د امریکا د اوسمهالي... ۳مخ

# رویدادهای خارجی

## ایران خپل سفیر، له بې حجابۍ خبریالۍ سره تر مرکې وروسته شړلی

د ایران ایرنا خبري اژانس وایي چې په اذربایجان کې د هغه هیواد سفیر عباس موسوي له یوې ښځینه خبریالۍ سره له مرکې وروسته له دندې ګوښه شوی دی.

ښاغلی عباس وروسته له هغه بې دندې شو چې نوموړي په باکو کې له یوې بې حجابې مېرمنې سره تلویزیوني مرکه ثبت کړه. د ایران دولتي خبري اژانس ایرنا د رپوټ له مخې، ایران به په اذربایجان کې ډېر ژر نوی سفیر وټاکي.

ایراني رسنیو له دغې خبریالۍ سره د موسوي مرکه د ایران اسلامي جمهوریت ارزښتونو ته سپکاوی بللی او نوموړی یې له دندې لیرې کړی.

ایران تېره جمعه وویل چې موسوي په باکو کې د خپل سفیر په توګه نه مني او هلته به ډېر ژر نوی سفیر



واستوي.

بل پلو، ایرنا وایي چې اذربایجان به هم ډېر ژر په تهران کې خپل سفارت بیاځلي پرانیزي. ویل کېږي چې دغه سفارت له یوه وسله وال برید وروسته خپل فعالیتونه وترل.

په هغه انځورونو کې چې په خواله رسنیو خپرېږي، موسوي له بې تیکرې او لنډلمنې خبریالۍ سره لیدل کیږي چې د ایران د مذهبي مشر علي خامنه یي او ولسمشر ابراهیم رییسي تر عکسونو لاندې ولاړ دي.

## اجتناب سفر صهیونیست‌ها به ترکیه و کشوهای عربی



شورای امنیت رژیم صهیونیستی از شهروندان اسرائیلی خواست تا به برخی کشورهای عربی و ترکیه سفر نکنند. به گزارش خبرگزاری تسنیم، شورای امنیت رژیم صهیونیستی به شهروندان خود توصیه کرد که به کشورهای ترکیه، مغرب، اردن و مصرنروند. در این بیانیه آمده است: با گذشت ۵ ماه از حمله اسرائیل به فلسطین تهدید برای اسرائیلی ها ویهودیان بسیار بالا رفته است. همچنین اسرائیل باید از روابط دیپلماتیک با ٤ کشوراجتناب کند.در این بیانیه ادعا شده که حماس به دنبال ضربه زدن به اسرائیلی ها ویهودیان در منطقه است.در این بیانیه از شهروندان اسرائیلی خواسته شده که در این کشورها ازمکان های مزدحم و عمومی دوری گزینند و ملیت خود را برای دیگران مشخص نکنند.طی ۵ ماه گذشته که از جنگ غزه و حملات رژیم صهیونیستی به مردم این منطقه می گذرد، بیش از ۳۲۵۰۰ نفر فلسطینی به شهادت رسیده اند که اکثر آنها زنان وکودکان هستند.

## امریکا بیش از صد میلیارد دالر درجنگ اوکراین هزینه کرده است

وزارت دفاع امریکا تخمین زده است که آنکشورحداقل ۱۱۳ میلیارد دالر را در جنگ اوکراین هزینه کرده است.

به گزارش فاکس نیوز؛ پنتاگون تخمین می‌زند که امریکا حداقل ۱۱۳ میلیارد دالر برای جنگ در اوکراین هزینه کرده است.

این رسانه با استناد به نامه شالاندا یانگ، مدیر اداره‌ای مدیریت و بودجه کاخ سفید به سناتور جی‌دی ونس گزارش داده است که امریکا بیش از این مقدار پول را، برای کمک به اوکراین در جنگ هزینه کرده است.

در نامه شالاندا یانگ هم‌چنان از کمبود منابع برای حمایت از اوکراین نیز آمده است: «وزارتخانه ها و ادارات با منابع محدود خود تمام تلاش خود را برای ادامه حمایت از اوکراین در شرایط نبودن بودجه بیشتر انجام داده‌اند، اما این منابع محدود برای رفع نیازهای حیاتی اوکراین در سال مالی ۲۰۲٤ کافی نخواهد بود و در صورت عدم تغییر، باعث برتری نیروهای مسلح روسیه خواهد شد.»

گفته شده است که امریکا در سال ۲۰۲۲ میلادی ۱۴۵ میلیون دالر و در سال ۲۰۲۳ میلادی ۱۸۹ میلیون دالر را برای هزینه‌های اساسی مانند صحت جهانی و تامین مالی سفارت‌خانه‌ها به اوکراین داده است.



## لوګر؛ لرو پرتو سیمو ته د زده کړو غځونه

د لوګر پوهنې ریاست خبر ورکړی، چې د وای فا مؤسسې له لورې د دې ولایت په لرې پرتو سیمو کې له زده کړو محرومو ماشومانو ته ۲۶۲ نوي سیمه ییز ټولګي جوړ شوي دي. د دې ولایت د اطلاعاتو او کلتور ریاست د پوهنې ریاست په حواله ویلي، چې یادې مؤسسې له پوهنې وزارت سره په همغږۍ په لوګر کې د پوهنې په برخه کې فعالیت پیل کړی، چې تر دې مهاله یې له زده کړو پاتې ماشومانو ته ۲۶۲ سیمه ییز ټولګي جوړ کړي دي. د یادونې وړ ده، چې له دې وړاندې د لوګر ولایت پوهنې ریاست د دې ولایت دولتي ښوونځیو ته د نږدې ۱۸ زره نویو زده کوونکو د جذب خبر ورکړی وو.



## کابل ښاروالی:
## روان کال به کابل کې ۱۶۵ پروژې پلې شي

کابل ښاروالی وایي، په روان هجري لمریز کال کې د ښېر اعشاریه څلور میلیارده افغانیو په ارزښت ۱۶۵ پروژې تر لاس لاندې لري. دغه پروژې د واټونو، کانالونو او زرغونو سیمو بیارغونې او پراختیا په برخه کې دي. د خیرخانې د کوتل سړک دویمه برخه، له قصبې تر چهار راهي شهیده سړک، د بادام باغ سړک، له قلعه شاڼان تر قلعه زمان خان سړک، له میرویس میدانه تر دهمزنګ څلور لارې، له دوغ آباد تر ګلباغ، له هوايي ډګره تر ګمرکه ځینې هغه سړکونه چې، د بیارغونې او پراختیايي چارې به یې روان هجري- لمریز کال کې پای ته ورسېږي. د کابل یو شمېر اوسېدونکي د سړک جوړونې په برخو کې د کابل ښاروالی فعالیتونه ستايي؛ خو ځینې هغه هټۍ وال چې، په دې بهیر کې یې هټۍ ورانې شوي د خپل کاروبار دوام لپاره د مناسب ځای د برابرېدو غوښتنه کوي.

## نورستان کې د مصنوعي ځنګلونو د جوړولو هڅې پیل شوي

په نورستان ولایت کې د مصنوعي ځنګلونو او څړ ځایونو د جوړولو هڅې پیل شوي دي. د دغه ولایت اوسېدونکي وایي، د «ایف اې او» مرستندویه اداري په فروش سیمه کې د مصنوعي ځنګلونو او څړ ځایونو د جوړولو چارې پیل کړي، چې په همدې موخه یې په دغه سیمه کې د اوبو دوه بندونه هم جوړ کړي. د نورستان اوسېدونکي وایي، چې په خپله په ځینو سیمو کې د طبیعي ځنګلونو ساتنه کوي او له سرپرست حکومته یې غوښتنه هم داده چې د طبیعي ځنګلونو ساتنه او په ځینو سیمو کې مصنوعي ځنګلونه جوړ کړي. د نورستان مرستیال والي بیا ولس ته د طبیعي ځنګلونو د ساتنې ډاډ... ۳مخ



## وزارت امور داخله:
## بازداشت ۲۳ تن به اتهام جرایم مختلف در پنج ولایت

وزارت امور داخله اعلام کرده که نیروهای پولیس ۲۳ تن را به اتهام دست داشتن در جرایم مختلف در پنج ولایت کشور، بازداشت کرده‌اند. این وزارت با نشر خبرنامه‌ای دیروز از بازداشت این افراد خبر داده است.

براساس خبرنامه، افراد یادشده در ولایت‌های تخار، ارزگان، هرات، نورستان و نیمروز، از سوی پولیس بازداشت شده‌اند. این افراد به جرایم مختلف از جمله، دزدی، قتل، فعالیت‌های غیرقانونی و دیگر جرایم جنایی، بازداشت و به پنجه قانون سپرده شده‌اند. تلاش مجاهدین مارت اسلامی به هدف تامین امن و نظم عامه در کشور ادامه دارد.

## پاکستان ته د وسلو د قاچاق مخنیوی وشو

د تورخم ګمرک کارکوونکو د یو شمېر نظامي تجهیزاتو له قاچاق څخه مخنیوی وکړ ۲/۱ د تورخم ګمرک د تشریح برخې کارکوونکو د کریم عابد شرکت اړوند په یوې سوداګریزه محموله کې، چې سیمینټ پکښې بار ول (۱۰) میله بېلابېل ډوله تفانچې، (۲۱) عدده شاجورونه او یو عدد کنداغ، چې په ډېر مهارت سره ځای پر ځای سوي ول او قاچاقچیانو غوښتل، چې له ګاونډي هېواد... ۳مخ



## بزرگان قومی ولسوالی موسهی خواستار ایجاد سهولت های آموزشی شدند




بزرگان قومی ولسوالی موسهی کابل دردیداربا معین وزارت معارف خواستار ایجاد سهولت ها آموزشی درآن ولسوالی شدند .
دفتر مطبوعاتی وزارت معارف دیروز با نشر این خبر گفته است: مولوی صبغت الله وصیل معین منابع و اداره آن وزارت با مولوی امین الله بدری ولسوال، مولوی نورالرحمن آمر معارف و شماری از علما و متنفذین ولسوالی موسهی کابل در مقر آن وزارت دیدار کرد.
بزرگان قومی موسهی خواست ها و پیشنهادهای شان را، مبنی بر ایجاد سهولت های... ص۳

## شماری از منسوبان قطعات خاص یک دوره آموزش های مسلکی را به پایان رساندند

وزارت دفاع ملی می گوید: یک هزار سه صدو سی هشت تن از منسوبان قطعات خاص بعد از سپری کردن یک دوره آموزش های مسلکی سند فراغت بدست آروندند.
دفتر مطبوعاتی وزارت دفاع ملی با نشر این خبر گفته است : در مراسم فراغت این افراد، قاری محمد فصیح الدین «فطرت» لوی درستیز قوای مسلح، شیخ ندا محمد «ندیم» سرپرست وزارت تحصیلات عالی، شماری... ص۳




**توجه !**
ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!